

امیر کروړ سوری غوری ( ۱۵۴ هـ ق مړ )

www.esalat.org

# دگوند دمرکزی کمیټی پیغام

## د تبلیغ، ترویج او آموزش دڅانګی دمسوول عبدالله سپنتګر له‌خوا

دملی مفاخرو نمانځنه اودرناوی دافغانستان دخلك دموکراتیك ګوند اودافغانستان ددموکراتیك جمهوریت دکلتوری پالیسی نه بېلېدونکې برخه ده .

درنو پوهانو دبهرنیو هیوادو څخه راغلو مېلمنو !

او دامیرکروړ سوری ددولس سوه پنځوسم تلین دنړیوال سیمینار ګډون کوونکو !

اجازه راکړئ چی ترټولو ړومبی دافغانستان دخلك دموکراتیك ګوند دمرکزي کمیټی او په سرکی دګران ملګری ببرك کارمل دافغانستان دخلك دموکراتیك ګوند دمرکزی کمیټی د عمومی منشی او د انقلابی شورانیکی هیلی او ارزوګانی ددی سیمینار ټولو نوښتګرو عالمانو، پوهانو، څیړونکو او دعلم او عرفان ټولو مینه‌والو ته



www.esalat.org

وړاندې کړم، او د امیر کروړ سوري د دولسم سوه پنځوسم تلین د علمي سیمینار د کار د پوره بریالیتوب هیله وکړم.

په هیواد مینو پوهانو او د دې سیمینار ګرانو میلمنو!

زموږ ګران هیواد افغانستان، د علم، عرفان او ادب د تاتوبي په څېر ډېر علمي او ادبي ستر شخصیتونه د علم او پوهې نړۍ ته وړاندې کړي چې نن یې نومونه د هیواد، سیمې، او نړۍ په علمي او ادبي کړیو کې په پوره درناوي یادېږي او آثار یې د بشري معنوي پانګې نه بېلېدونکې برخه ده. علامه البیروني، ثاني معلم ابو نصر فارابي، ابن سینای بلخي، بایزید روښان، خوشحال خټک او په سلګونو نور پوهان زموږ د دې خبرې ښکاره ثبوت دی. د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د هیواد کارګري طبقې او ټولو زیار ایستونکو ګوندا او د افغانستان دموکراتیک جمهوري دولت یې له شکه په خپلو ټولو علمي، ادبي او هنري څېرو او شخصیتونو ویاړي نمانځنه یې کوي او د خپلې علمي او فرهنګي کړنلارې او ارمان سره سم په هیواد کې د ټولو استوګنو وروڼو ملیتونو، قومونو او قبایلو د کلتور د سمسورولو او کلتوري با ارزښته میراثونو د ساتلو او د هغوی د مفاخرو د نمانځنې دنده په غاړه لري.

د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د هم دې علمي او مهم سیاست پر بنسټ نن په هیواد کې د اکاډمیکو او نوښتګرو روښان فکرانو او پوهانو د کار د پاره پراخه افق او لارلید پرانیستی دی او دوی کولی شي چې بې له هر ډول خنډه څېړنې وکړي، خپل مفاخر ژوندي



www.esalat.org

وساتي او دمعنوي علمي پانګه دخپل وطن او خلکو په ګټه په کار یوسي.
زموږ ګوند او دولت په دې برخه کې حاضر دی چې د خپلو پوهانو او روښان فکرانو سره هر ډول مادي او معنوي مرسته وکړي او دوی ته دخیړنې ټول شرایط برابر کړي.

ګوند او دولت په دې برخه کې د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت دعلومو داکاډیمۍ او په دې اکاډیمۍ کې دراټولو شوو پوهانو او څیړونکو کار ته په درنښت ګوري او ملاتړ یې کوي.
دټولنیزو او طبیعي علومو د مختلفو څانګو په برخه کې دعلومو اکاډیمۍ دڅیړونکو او پوهانو کار به ددې زمینه برابره کړي چې هیواد دساینس او تکنالوژۍ په ورو ستیو بریالیتوبونو سمبال شي او له دې لارې له وروسته پاتې والي نه خلاص، هیواد مو آباد او خلک مو سوکاله شي.

زموږ د ټولنیزو، علومو د پوهانو په مخ کې دا دنده پرته ده چې دافغانستان تاریخ دملي دموکراتیک انقلاب دمحرکه ځواکونو خصلت دملت د پروسې تکوین او ټینګښت، دهیواد د بیلو بیلو ملیتونو، قومونو د ژبو فرهنګ او ملي دودونو او په سیمه کې د نړیوالو اړیکو څیړنې ته خپله پاملرنه واړوي او زموږ دهیواد لرغوني او څیړنې پوهنې چې نړیوال شهرت یې ګټلی له سره پیل کړي. دطبیعي علومو دپوهانو دندې هم درنې او زیاتې دي تر او سه پورې دګاو ندیو هیواد دو په پرتله دافغانستان اقلیم، جیولوجي او جغرافیه نه دي څیړل شوي، دملي اقتصاد دودې او پراختیا لپاره ضرور ده چې دجیولوجیکي اکتشافاتو دکانونو درا ایستلو

دانرژۍ د دولډول منابعو د برابرولو، زلزله پيژندنې، اقليم پيژندنې او دترانسپورتي مسألو د حل دپاره د څيړنې او په ملي اقتصاد کې دهغوی د کارونې دپاره عملي او عيني پلانونه طرح او عملي شي .

دافغانستان دخلک دموکراتيک گوند عمومي منشي او دافغانستان دد موکراتيک جمهوريت دانقلابي شورا رئيس ملگری ببرک کارمل د پوهانو کار او زيار ته په پوره درناوی او اهميت ويلي دي : «ټولې دولتي موسسې او سازمانونه مکلف دي چې د اقتصادي او ټولنيزو دې د پلانونو په طرح او تحقيق کې د پوهانو او متخصصينو سره سلامشوری وکړي او دهغوی سپارښتنې په ټولايزې چارو کې عملي» .

محترمو پوهانو او گرانو ميلمنو !

دډيرو ياړځای دی چې د افغانستان د دموکراتيک جمهوري دولت د کلتوری پاليسی سره سم د پښتون وروراولس د بډای ادب او هنر د آسمان ديوه ځلانده ستوري دادب او معرفت پالنې د کورنۍ د زرور استازی امير کروړ سوري د دولس سوه پنځوسم تلين دعلمي ترېوال سيمينار کارپيل کيږي .

دغور سوري کورنۍ چې په تاريخ کې په شنسبا نيانو مشهوره ده دافغانستان په لرغوني تاريخ کې دعلم، فرهنگ او سياست له پلوه د يادونې وړ مقام لري.

ددې کورنۍ مشرانو يوازې توره نه ده چلولې بلکه د توري او



www.esalat.org

سیاست ترڅنګه یې دعلم اوفرهنګ سره هم علاقه درلودې ده او د افغاني فرهنګ په خپرولو کې یې ستر کارونه ترسره کړي دي. د دې کورنۍ واکدارانو او مشرانو افغاني او اسلامي فرهنګ دسندوه ترشا او خوا پورې خپور کړی دی.

دغورد شنسبانیانو کورنۍ دمشرانو سیاسي او علمي کارنامې چې ځینې یې په خپله دعلمي ذوق خاوندان اوله شعر او ادب سره مینه وال وو، زموږ دسیاسي او فرهنګي پخواني تاریخ زرینې پاڼې جوړوي په دغو مشرانو کې یو هم امیر کروړ سوری دی.

دزماني ناوړو پېښو دامیر کروړ آثار له منځه وړي دي. دپښتو ادب لیکلي تاریخ یوازې دده یوه ویاړنه په خپل غېږ کې ساتلې ده او ویاړنه دپښتو په معلومو اشعارو کې تر ټولو پخوانی شعر دی او امیر کروړ سوری هم دهمدې ویاړنې په اساس د پښتو ژبې تر ټولو قدیم معلوم شاعر دی او تر ده پخوا په پښتو ژبه کې بل شاعر تر اوسه نه دی پېژندل شوی. په پوره داډ سره ویلی شو چې دامیر کروړ سوري ددولس سوه پنځوسم تلین دنړیوال علمي سیمینار کار چې دافغانستان د علومو اکاډمۍ په نوښت او دانقلابي حکومت په پرېکړه او دهیوادد ټولو علمي او فرهنګي موسسو په ګډون او دیونسکو په مالي مرسته جوړ شوی دی، دسوري کورنۍ دعلمي او ادبي فعالیتو نو دېرې ناپېژندل شوې خواوې روښانه کړي.



www.esalat.org

محترمو پوهانو، خیرنکو او گرانو میلمنو!

غواړم چې ستاسو توجه او پاملرنه د هیواد د اوسنی وضعې یوه واقعي اړخ ته راواړوم. زموږ په هیواد افغانستان کې د ثور انقلاب د دې د پاره بریالی شوی دی چې د علم او پوهې دروازې د دې هیواد د ټولو بچیانو پر مخ خلاصې شي، ټول د علم او پوهې په پسول ښکلي شي، علمي څیړنې د خلکو د پاره او د هیواد د ودې او ټولو په خدمت کې پرېوځي او تحقیق د تحقیق د پاره او پوهه د پوهې د پاره خپل ځای پوهه، د ژوند د پاره او علم د انسان د نیکمرغې د پاره مقولې ته پرېږدي.

د دې ستر او سپېڅلي ارمان او هدف ته د رسیدلو د پاره دېرې ستونځې په مخکښې لرو له پخوا څخه راپاتې نیمګړتیاوې له یوې خوا او په هیواد باندې تحمیل شوی امپریالیستي نا اعلان شوې جګړه له بلې خوا زموږ ستونځې رازیاتې کړې دي. موږ او س د خپل تاریخ دېرې حساسې او نازکې شیبې تېروو په پوره باور سره تاسو ته ویلی شم چې زموږ غیرتی او لس به د دغو حساسو شیبو او د تاریخ د دې سترې ازموینې څخه سرلوړی راووځي همدا ایمان او باور دی چې موږ کار ته هڅوي او انرژي رابخښي ستاسو زیار، کار، مبارزه، هڅه هاند او وطنپالو نونکي علمي کار افغان میړنی او لس د بریالیتوب پولې ته نږدې کوي.

د افغانستان زړور او باسپاسه اولس به د خپلو هغو پوهانو او روښان فکرانو هاند او یاد چې په دې انقلابي او له ویاړه ډک کوشرایطو کې



www.esalat.org

دخپل وطن ، خلکو او انقلاب ترشاو لاړدی دتل لەپاره نسل په نسل خوندی وساتی.

دیوه پوه شخصیت ترټولو ښه نمانځنه او له هغی دلی نه دامیر کروړ سوری نمانځنه داده چی پوهان او څیړونکی دهغه علمی، ادبی او فرهنگی میراث په پوره غور وڅیړی اودساینس او تکنالوژی داوسنی پراختیا اودټولنی داوسنی غوښتنوسره هغه پرتله کړی انکشاف ورکړی اودټولنی په گټه ورڅخه کار واخلی .

په دې برخه کی ستاسو درنو پوهانو او څیړونکو پام دې ټکی ته رااړول غواړم چی څنگه کولی شو دامیر کروړ سوری دویاړنی په شان دشعر او ادب هرپیل ،هره کلمه او هره خبره دهیواد دمکار بیرحمه اومزدور دښمن پرزړه اوستر گو چی ددې هیواد دورانولو بیلابیلو په لاس کی اخیستی او ددې هیواد دبچیو دوژلو او آزارناولی او زنگ وهلی توره یی په لاس کی نیولې په سره خنجر او غشی بدل کړو.

دادنده هیواد، او لس او انقلاب ستاسو شریفو پوهانو، څیړنکو، ادیبانو لیکوالو او شاعرانو په مخکښی ایښی دەاوز مانه او دانقلاب چټک او پرمختلونکی بهیر دهغی اجرا کول غواړی .همدا اوس موږ په سلگونو داسی اتلان لرو چی وطن ورباندی ویاړی ، هغوی چی د انقلاب ترسرې جنډې لاندې د وطن په نامه، داولس په نامه دآزادی او ترقی په نامه شهیدان شوي اوهغوی چی په هسکه غاړه غرور او ځان



www.esalat.org

تیریدنی سره دوطن اوخلکوداوزدورنځونو په خاطرجنګیږی باید ستاسو په څوا کښې ولاسو اوستاسو دځواکمنو قلمونو ترکر ښولاندې ددښمن دتورو زړونو دپاره دخنجر اوناولو ستر ګو دپاره غشی شی .

دوطن درنو پوهانو اوخیرو نکو!

وطن، خلك، ګوند، دولت اوانقلاب تاسو ته بلنه در کوی چې دزمانې غوښتنوته په ټول ځواك سره ځواب ورکړئ، مرسته وکړئ څو دغدار دښمن ناولی لاسونه زمونږ دهیوادنه لنډ شی.

په پای کې دامیر کروړسوری ددولس سوه پنځوسم تلین دنړیوال علمی سیمینارد کار دپوره بریالیتوب هیله کوم .

بله دې وي دعلم اوپوهې روښانه ډیوه !



www.esalat.org